# د وسیلې د زیان او له لاسه ورکولو پروګرام

د غوښتنلیک فورمه

**د پوهنې مدیریت ملکیت د زده‌کوونکي وسیلې اختیار**

کمپیوټر اکثرا د شپږم څخه تر دولسم ټولګي پورې زده کونکي یا هغه کسان چې د FLEX آنلاین ښوونځي ته ځي د خپل ښوونځي کار کولو لپاره کاروي. د بیورټن پوهنې مدیریت (BSD) ټول زده کونکي چې د شپږم څخه تر دولسم ټولګي پورې زده کونکي دي او هغه کسان چې د BSD FLEX آنلاین ښوونځي ته ځي فرصت لري چې په ښوونځي او کور کې د کارولو لپاره د مدیریت ملکیت Chromebook ترلاسه کړي.

**ایا دا زده کوونکې به د مدیریت ملکیت وسیله کاروي؟**

□ **هو** — (زده‌کوونکی به د مدیریت ملکیت وسیله کاروي)
□ **نه**

د Wi-Fi مرستې په اړه معلومات

که ستاسو کورنۍ د خپلو زده کوونکو لپاره د مناسب Wi-Fi برابرولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري، مهرباني وکړئ د بیورټ پوهنې مدیریت په انټرنیټ پاڼه کې د بېلابېلو اختیارونو په اړه معلومات وګورئ، یا د خپل ښوونځي د دفتر له کارکوونکو څخه پوښتنه وکړئ.

**د زده کوونکي د وسیلې د زیان او له لاسه ورکولو د ساتنې پروګرام**

BSD د زده کوونکي د وسیلې د زیان او له لاسه ورکولو د ساتنې پوښښ د ۲۰ ډالرو فیس په بدل کې برابروي، یا د هرې کورنۍ لپاره په هر ښوونیز کال کې اعظمي فیس ۶۰ ډالر دی. دا پروګرام په هغو حالاتو کې کورنۍ ساتي چې د زده‌کوونکي وسیله زیانمنه، ورکه، یا غلا شي. د ۲۰ ډالرو فیس د هغو کسانو لپاره چې د مدیریت د وړیا/تخفیف شوو فیسونو پروګرام له مخې وړ وي، یا ۱۰ ډالرو ته راکمېږي یا په بشپړ ډول معاف کېږي. مخکې له دې چې په فیس کې بدلون راشي، تاسو باید د وړیا/تخفیف شوو مدیریت فیسونو غوښتنلیک بشپړ کړئ.

هغه زده کوونکي چې د BSD د مدیریت ملکیت وسیلې کاروي، کولای شي د "زده کوونکي د وسیلې د زیان او له لاسه ورکولو د ساتنې پروګرام" ردولو لپاره "پوښښ نشته" انتخاب کړي. خو دا سپارښتنه نه کېږي، ځکه کورنۍ د زیان، ورکېدو، یا غلا له امله د هر ډول لګښتونو بشپړ مسؤلیت پر غاړه اخلي. دا لګښتونه د پلورونکو د اوسنیو بیو له مخې د هرې پېښې لپاره ۴۵۰ ډالر یا تر دې زیات کېدای شي.
د وسیلې د ساتنې پروګرام د پوښښ لپاره د نوم‌لیکنې موده باید د زده‌کوونکي د ښوونځي له پیل یا د مدیریت ملکیت وسیلې له ورکړې وروسته له ۶۰ ورځو څخه زیاته نه وي. د هر ډول زیان یا ورکېدو د ادعا مخکې د فیس تادیه اړینه ده. د زیان او له لاسه ورکولو د ساتنې پروګرام په اړه نور معلومات، په شمول دا چې کوم شیان تر پوښښ لاندې راولي، د BSD په وېبپاڼه کې موندل کېدای شي.
له لاندې دوو انتخابونو څخه یو انتخاب کړئ:

□ **پوښښ** — د زیان او له لاسه ورکولو د ساتنې پروګرام
دا د زده کوونکي د وسیلې د ناڅاپي زیان یا ورکېدو په صورت کې د کورنۍ مسؤلیت محدودوي.

- دا انتخاب هغه وخت وکړئ چې زده کوونکی د مدیریت ملکیت وسیله اخلي او د پوښښ غوښتنه کوي.
- د زده کوونکي د ښوونځي له پیل یا د مدیریت ملکیت وسیلې له ورکړې وروسته د ۶۰ ورځو دننه، د مدیریت د آنلاین تادیې سیستم له لارې یا د ښوونځي کتابدار ته ۲۰ ډالر تادیه کړئ.
  - یادونه: د هغو والدینو لپاره چې نوي زده‌کوونکي په مدیریت کې شاملوي، ستاسو آنلاین تادیاتي حساب به تر ۲۴ ساعتونو پورې شتون ونه لري.
  - زده کوونکي تر هغه وخته تر پوښښ لاندې نه وي، څو تادیه نه وي شوې.
- د عاید پر بنسټ معافیت: د ۲۰ ډالرو فیس د هغو کسانو لپاره چې د مدیریت د وړیا/تخفیف شوو فیسونو پروګرام له مخې وړ وي، یا ۱۰ ډالرو ته راکمېږي یا په بشپړ ډول معاف کېږي.
- که د تادیې په اړه پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د ښوونځي له کتابدار سره وګورئ؛ په عالي ښوونځي کې کتابدار او په منځني ښوونځي کې د دفتر مرستیال.

□ **پوښښ نشته**

- **د هغو زده کوونکو لپاره سپارښتنه نه کېږي چې د مدیریت ملکیت وسیلې کاروي.**
- هغه زده کوونکي چې د مدیریت ملکیت وسیله کاروي او "پوښښ نشته" انتخابوي، دا ښیي چې کورنۍ د زیان، ورکېدو، یا غلا له امله د هر ډول لګښتونو بشپړ مسؤلیت پر غاړه اخلي،

پرته له دې چې په‌ښه څنګه رامنځته شوې وي؛ د جریمې لګښتونه د پلورونکو د اوسنیو بیو له مخې **۴۵۰ ډالر یا تر دې زیات کېدای شي.**

| ID د زده کوونکي مسلسل شمیره | د والدین لاسلیک |
| --- | --- |
| | |

یادونه :که تاسو په مدیریت کې له یوه څخه زیات زده کوونکي لرئ، دا فورمه باید د هر زده کوونکي لپاره جلا ډکه شي.